**د روهینګیا د تولوژني لړۍ به تر هغه دوام ولري، تر څو ملي دولت پر ربښتیني خلافت بدل نه شي**



**خبر:**

د (۲۰۱۷م) کال د اګېسټ راهیسې د نږۍ زیاتو ځورېدلو روهینګیایي مسلمانانو پر وړاندې وروستی دولتي تاوتریخوالی تر هغه وروسته ترسره کیږي چې پر پولیسو او سرحدي پوستو د دوی په وینا غلچکي برید ترسره شو. د میانمار پوځ یو لړ منظم او بې توپیره کمپاین د روهینګیایي مسلمانانو د کلو پر وړاندې پیل کړی. د (۲۰۱۷م) کال د سپټمبر پر دویمه د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې کابو ۲۶۰۰ ودانۍ د میانمار په کلو کې د میانماري پوځ له لورې سوځېدلې دي. د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې یوازې په یوه اونۍ کې نږدې ۶۰۰۰۰ روهینګیایي وګړي د ناوړه تاوتریخوالي له امله تښتېدلي او په ګاونډي هېواد بنګله‌دېش کې د پنا اخیستلو په لټه کې دي.

**تبصره:**

د لسیزو راهیسې د میانمار پوځ له لوري پر روهینګیایي مسلمانانو دوامداره او منظمه وحشي ځورونه یوه تور پړاو ته ننوتې ده. د میانمار قصاب پوځ د راخاین بودایي ترهګر پوځ سره یې یو ځای د یاغیانو سره د مبارزې او د سیمه‌ییزو چاڼیزو عملیاتو تر نامه لاندې په تورو، چاړو او ټوپکونو جګړه پیل کړې ده. د روانې میاشتې سېپټمبر پر دویمه د میانمار پوځ اعلان وکړ چې نږدې ۴۰۰ مسلمانان په تېره یوه اونۍ کې وژل شوي دي. سره له دې موږ پوهیږو چې واقعي شمېره ډېره لوړه ده او نوموړې شمېره ورځ تر بلې پورته ځي. د وژل شوو کسانو وېروونکی عیني شمېر لا له وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې د ویروس په څېر خپور شوی. د ټیلیګراف ورځپاڼې د راپور له مخې یوه ژغورل شوي کس وویل چې د میانمار پوځي سرتېرو د راخاین له بودایانو سره یو ځای ګڼ شمېر روهینګیایي نارینه د بانس څخه جوړشوي هستوګنځې ته ولیږدول چې اوربل پکې شوی و او تر مرګه یې پکې سوځل. همدا ډول د نارینه وو سترګې یې تړلې او د خپلو کورنیو په مخ کې یې حلالول، پر ښځو او ځوانو نجونو یې ډله ییز جنسي تېري ترسره کړل. ان د نوي زیږېدلي ماشومانو پر مرۍ یې پښه اېښوده او یا یې سر له تنې بېلوه او جهیل ته یې غورځاوه. **لا حول ولا قوه الا بالله**. د میانمار پوځ پر هغو ملکې وګړو د هاوانونو او ماشینونو ډزې کولې چې د وینې توېدو له امله له پولې ها غاړې بنګله‌دېش هیواد ته پورې وتل.

هغه مهال چې د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان له لوري د رهبري کېدونکي ډلې له خوا یو کلن څېړنیز راپور د روهینګیا د بشري حقونو د تېریو په اړه د میانمار مشرې اونګ سن سوکي ته وړاندې شو او د میانمار حکومت یې دې ته اړ کړ چې د دولت له لوري پر دوی تپل شوي تاوتریخوالي ته د پای ټکی کیږدي، نو سمدلاسه د اګېسټ په پای کې موږ د میانمار پر پولیسو او د هغوی پر سرحدي پوستو د یوه پلان شوي ترهګریز برید شاهدان وو. له هغه راهیسې د برما پوځ وژونکي پوځي عملیاتو لړۍ ته دوام ورکړی دی. د عامه وژنې د عملیاتو ستره وېرجنه برخه دا ده چې د روهینګیا ټول وګړي، د ماشومانو او مېرمنو په ګډون په ټولیز ډول د بریدونو په ګناه نیول شوي دي. سره له دې داسې کافي شواهد نشته چې بریدګر واقعي روهینګیایان وښيي، خو ټول مسلمان وګړي یې له افراطیت سره په تړاو په نښه کړل، ترڅو له دې لارې یې په بشپړ ډول د نړۍ له مخ څخه پاک کړي او لوېدیځې نړۍ په لوی لاس د دغه سترې وژنې په اړه سترګې پټې کړې دي.

د داسې ډاروونکو عامه وژنو تر منځ، موږ د بنګله‌دېش د تېرایستونکې لومړۍ وزیرې حسینې د ډېر کرغېړن ځواب شاهدان یو. حسینه د دې پرځای چې د روهینګیا د تښتېدلو مسلمانانو لپاره امن او پناځای برابر کړي، د بنګله‌دېش سرحدي ساتونکو (BGB) ته یې امر وکړ چې دوی بېرته د بنګال خلیج ته وشړي. حقیقت دا دی چې دوه مخې لا تر دې دمه پای ته نه ده رسېدلې. حسینه د دوه مخې مشرې په توګه د میانمار د عاموژنې پوځ ته چې زموږ ورونه او خویندې حلالوي، د ترهګرۍ پر وړاندې د ګډو عملیاتو وړاندیز کوي. د (۲۰۱۷م) کال د اګېسټ پر ۲۸ مه د بنګله‌دېش لومړۍ وزیرې په ډاکا کې د میانمار سفارت ته رسمي وړاندیز ولېږه چې د میانمار له پوځ سره یو ځای د بنګله‌دېش له لوري د اسلامي افراطیت تر نامه لاندې پکې د ګډې جګړیزې مرستې څرګندونه شوې وه. د حسینې حکومت د میانمار د امنیت په اړه اندېښمن دی، خو د میانمار د ۱،۱ میلیونه روهینګیایي مسلمانانو بد او وېرجن حالت ته، چې د تېرو څو ورځو راهیسې د مخ پر زیاتېدونکې ناورین شاهدان دي، هیڅ پاملرنه نه کوي. د ملي دولت د واکمنانو رول د پاتې پیاوړې اسلامي نړۍ لپاره د بشپړ خیانت څخه بل څه کېدای شي؟ ټول هغه څه چې دوی یې نن ورځ ترسره کوي بل هیڅ نه دي؛ یوازې تش په نامه خدمتونه دي.

که څه هم، حسینې په بې شرمۍ امر وکړ چې له روهینګیا څخه تښتېدلي ملکي کلیوال باید بېرته وشړل شي، چې په بېوزلۍ کې ژوند کوي. خو نوموړو کلیوالو د خپلو نورو ورونو او خویندو د مرستې په موخه د خوړو، اوبو او د ژوند د نورو مادي اړتیاوو د پوره کولو لپاره لاس اوږد کړی. (ډېلي ستار، د اګسټ ۲۷مه)

ان په وروستیو څو ورځو کې د بنګله‌دېش سرحدي ساتونکو د حکومت له امر څخه سرغړونه کړې او روهینګیایي وګړو ته یې سیمې ته د راتګ اجازه ورکړې. دا په دې مانا ده چې د امت احساسات د اوسنیو واکمنانو د ارزوګانو پر خلاف راپورته شوي. د بېلګې په ډول، په امت کې د ورورولۍ احساسات تر هغو مصنوعي اندونو څخه مخ پر وړاندې ځي چې د ملي دولت د مشرانو له لوري موږ ته را کول کیږي.

په روهینګیا کې کړکېچ یو ځل بیا موږ ته دا رایادوي چې اوس هغه وخت رارسېدلی، چې له ناقانونه واکمنانو لکه له حسینې څخه باید ځانونه خلاص کړو، چې د ناوړو لوېدیځوالو ځواکونو له لوري پر موږ تپل شوي. حسینه د استعمار شوو اسلامي خاورو د نورو سیالانو په څېر غواړي چې د ملي دولت ساتنه په داسې چل وکړي چې د خپلو ښکېلاکګرو بادارانو له لوري ورته بلنه شوې وي. هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته یادونه کړې چې د یوه امت احساسات باید په داسې توګه خپل کړو چې تر مصنوعي پولو وراوړو. هغه فرمایي:

**«المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ، لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ»** (بخاري)

*یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه به ظلم پرې کوي او نه به يې ظالم ته سپاري.*

حسينه له موږ څخه نشنلېستي او ملي احساسات غواړي چې دا احساسات په اسلام کې حرام دي. خو دغه سپېڅلي امت يو ځل بيا ثابته کړه چې د دوی احساسات او انګېزنې د حسينې د کړنو او د هغو پوځي سرتېرو پر خلاف دي، چې حسينه يې د ملګرو ملتونو د سوله ساتي ماموريت لپاره له کافرانو سره يوځای لېږي. خو حسينه نه شي کولی چې د ميانمار د فتح کولو لپاره يو پياوړی پوځ ولېږي، ترڅو ګاونډيو مسلمانانو ته له کړکيچ څخه د خلاصون په موخه دايمي امن راوړي. اوس د مخلص پوځ لپاره د ازموينې وخت راغلی. دوی بايد له الله او د روهينګيا مظلومو خلکو له ښېرا څخه و وېرېږي. راوړاندې شئ د خپلو هغو ورونو او خويندو د مرستې لپاره چې په سپينه ورځ حلالېږي. د مادي ملاتړ په مرسته د ملي دولت باطل جوړښت له منځه يوسئ او هغه رښتينی خلافت بيا تاسيس کړئ، چې ټل د مسلمانانو د عزت دفاع کوي او په بنستيز ډول جغرافيايي پولې او سرحدونه له منځه وړي.

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**
**ليکوال: عماد الدين امين**
**د حزب التحرير- ولايه بنګله‌دېش د مطبوعاتي دفتر غړی**
**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۱۵مه**
**۲۰۱۷م، د سپټمبر ۶مه**